# د پښتنګ وزر

اسد الله زمری

هغه کتابونه چې سمسور وو بپاڼې پرلیکه کړې او یا یې پر لیکه
کوي، نور څوک یې پر لیکه کول اجازه نه لري

WWW.SAMSOOR.COM

ډالۍ

دا ټولګه دوطن د شمعې هغو مئینو پتنګانو ته دالۍ کوم ،چې په دې ښکلې شمعه یې خپل وزرونه و سوځول اویا یې سوځول غواړي

زمری

# د اسدالله زمري د شاعرۍ خوشبويي

ماشوم چې پيدا شي سترګې يې پټې وي .خو د ژړا چل ورځي او بيا رو-رو سترګې اوغړوي؛دي د هيڅ څيز شعور نه لري ، خو دده د حيرانو حيرانو کتو نه سړی دا اندازه لګولی شي چې دی لګيا دی داسی هر طرف ته په کاواکو سترګو ګوري ،لکه چې د موجوده فطرت او موجود معاشرت نه د ځان د پاره د غم او خوشحالۍ په خپله انتخاب کوي؛ځکه چې دلته کوم غمونه دي اوس دا هم دده دي او چې کومې خوشحالۍ ګانې دي دا هم دده دي-هم ددي وخت نه ،هم ددي ځايه-هم دده ددې کاواکو کاواکو کتو نه چې دي څه راټولوي هم په دې هر څه دی خپل اندرون غني کوي ؛سبا له به دی هم دلته خړ پوسې ا وکړي ،سبا له به دی هم دلته په منډو اوګرځي؛ دده په ذهن کې به د سحر ، غرمې او ماښام عکسونه د نوو دنيا ګانو په شان موجود وي ، دی به ددې دنيا سره ددغو دنيا ګانو اوسيدونکی وي؛ بيا به رو رو ځلمی شي . ځواني به وی . دبر آلوت ارمان به وي ، جنون به وی ، شعور به وي او دا هر څه به دده په اندرون کې د ګل او ګلزار په رنګ غوړيږي ، دی به وی ، دده ماحول او چاپير چل به وی او دده د اندرون ښايستونه به وي ؛ د ي به دا هر څه بيانول غواړی ، دا هر څه به د بل سره شريکول غواړي خو دی به ددی د اظهار په چل نه پوهيږي . دد غسی اظهار چل صرف شاعر له ورځي .

١

دی به دغه اظهار، خپل اندرون ته ورکوزوي خو دی به په پوره ډول پدې قادر نه وی او رو رو به بيا دغه چل هم زده کړي .دی به شاعر شي . ځان به بيا هم ورته نيمګړی ښکاري او کوښښ به کوي چه زه دی د خپلو قلبي وارداتو . اندروني کيفيتونو اظهار ته ژبه ورکړم . ځکه چه اوس نه يوازی دی د يوې شتمنې ژبې څښتن دی بلکه شاعر شوی هم دی ؛ اوس دی دی چه هر وخت د لفظونو سره مشت او ګريوان دی؛ دی دی چې د خپلو نوو نوو کيفيتونو سره ار ليچې پر پيچې دی ؛ ځکه چه دی اوس شاعر دی او څه ويل غواړي . دا زه هم يم .دا ته هم يې . او دا اسدالله زمری هم دی .
اسدالله نوم په ما ډير خوږ لګی ځکه چه اسدالله دانش زما يار دی چې مونږ ورته د ډ يرې مينې نه اسد جان وايو.

اسدالله زمري کتاب ليکلی دی ، د شاعری کتاب ؛ دا يې په داسې وخت کې ليکلی دی چه د هغه د کاروان ، پسرلي ، کاوون تو پاني او نورو سوونو را ټو کيدلو شاعرانو د جانان په سترګو کې اوبښکې دي او مخ ته يې د خالونو په ځای د
ډيرو زړونو د وينو دارې شوي دي . دا شاعر چه لکه د خپلو نورو د ځوانی په وخت د جانان د سترګو ذکر اوکړي ،د خپلې مينې سندرې اوايې . د هغه نه وخت او حالاتو د جانان د مينې سندرې ترې ورې دي؛ دی د ځواني په تود موسم کښې نه يوازې په خپله کډه را ټولولو مجبور دی بلکه دده مينه او جانان هم ددغې صورت حال ښکار شوی دی ؛ دی ورته په غټو غټو کوري ، د بې وسی اوښکې يې د سترګو ځاځي او لکه د خپلو نورو کلی والو، وطن والو شاعرانو، کور کلی پريږدی او لکه د کړ ددانو د نورو په لاس په اما او کجا خوريږي او اوس چه څه وايې نو د جانان د غم سره سره د خپل وطن غم ته ځان سپاري او وايې چه :

د زړه ژور زخمونه مې ګنډلي نه دي چا

ځګيروي او اوسيلي يې اوريدلي نه دي چا

دې ټول نظم ته هغه سر خط ورکړی چه :«د افغان اولس فرياد».
سوال دادی چه افغان اولس څه ګناه کړې ده چه به حيث د اولس فرياد کوی ، چيغې وهي او دغه چيغې اسدالله زمری محسوسوي او بيا يې سندره کوي ،يا يې ويرنه کوي او مونږ ته يې اوروي ؟!
دا ځکه چه هغه په ښه بد پوه شوی دی نوهغه په يو داسی جنګ اوريدلی دی چه نه ئې پکښې بر خه لرله او نه ئې ددې

ب

د پاره کوم تجويز پيش کړي وو؛ خودا هغه لاشعوري طور د هغو راهنمايانو په ناکامی طنز کوي کومې ناکامی چه اوس هم هغوی ئې خلکو ته د کاميابيو په شکل کښې په غټو سترګو پيش کوي
.
ولې د غو راهنمايانو پدې خبره فکر نه دی کړی چه مونږ په خپلو غلطيو څومره د غسې شاعران د مينې او ځواني په وخت د خپل خپل المبار ا طوار طريقو نه را وشوکول او بې وخته مو يوې داسې بتې ته ور واچول د کومې نه چه هغو ئې صرف او صرف د وير او ماتم

سندرې جوړوې او چه هم دغه سندرې به د صباني تاريخ په صفحو کې هم ددوی په عمل او کار پورې پېچ موزی کوي او خاندي به .

پدې کښې شک نشته چه د اسدالله زمري په شعر کښې ډيرې فني کمی مو جود دي ؛ خو دده د پر مختګ انداز داسې دی چه دا به پکښې صبا له نه وي ؛ ولې کوم څيز چه نن هم دده په شعر کښې لکه د نورو افغانو شاعرانو موجود دی هغه د خپل اجتماعيت غم ، د خپلې خاورې ، خپل قام او خپل اولس هغه کړی دي چه ټول افغان ورسره مخ دی او د اسدالله آواز هم د شعر په رنګ کښې په هغې کښې موجود دی .

تاسو لږ دده دردونه وګورئ،ا وئې لولئ او غور او فکر پرې وکړئ چه وائي د «افغان وطن» تر عنوان لاندې ليکې چه :

پرون بل وو پکښې سره اورونه هر خوا

نن ئې تور لوګی جګيږي له ګوګله

د دنيا لمن ئې تنګه ده لوی غم ته

د افغان وطن کړ وران هر چا څو ځله

په يوه دعائيه نظم کښې وائي چه :

د هلمند اوبه مې کام کښې د خپل قوم زلال زلال که

د کنړ له زوګ او شوره هر د شمن زما زبون که

کند هار کښې انار باغ ته ، په مزار کښې لاله زار ته

زما وينه ئې اوبه کړه ، ته ئې بيا راته زرغون که

د نارنج د ګل په بوی می، له ميخوارو نه نيشه که

بيا مې «جام» راته را ډک کړه ،پيمانه زما جيحون که



دغسې د اسدالله زمري دا کتاب د ډيرو ښو ښو شعرونو نه ډک دی ؛ خو زه به ئې په آخر کښې د خپلو خبرود پاره د ثبوت په طور پيش کوم ، دا يوازې د هغه د عمر د تيريدو يا د غربت د سوز قيصه نه ده ، د ټولو افغاني شاعرانو قيصه هم ده ؛ د ټولو افغاني خويندو ميندو قيصه هم ده ، د ټول افغان ولس قيصه هم ده؛ قيصه څه ده ؟داده چه ئې وئيلې دي

نه ځګېرويو آرام راکړ نه سلګيو

عمر تر يخ که راته دې خړو لوګيو

شپه او ورځ له سوزه کريکې زما خيږي

غربت وريت کړم تناره کښې د خواريو

او خپل عمر يا ژوند داسې بيانوي چه :

ماشوم توب د خاوروخلۍ ًو باد يووړ

ځلميتوب د اور بڅرۍ ًو باد يووړ

د پوخ والي ميوه شنه رانه ورسته شوه

زړښت هم د ايرو تلۍ ًوو باد يووړ

زه د زړه د تل نه د اسدالله زمري د شعري او فنی ژوند د پاره دعا غواړم، پدی اميد چه دی به نه يوازی د ژبې ، قام او اولس خدمت وکړي ،بلکه د فن او هنر نورې داسې فن کاری به مونږ ته پيش کړي چه زمونږ تږي زړونه به خړوب کړي هغه د چا خبره چه :

ای د ګلو لښتې ستا ځواني د تل رنګينه وي

ما غوندی ډير سترې به ئې سوری ته دمې کوي

په درناوی

رحمت شاه سا ئل

۵ مئی ۲۰۰۸

پيښور- با چا خان مرکز

د

# ثار

وګوره ساقي چې مستان چېرته ځي ؟ ډک د میو جام دی رندان چیرته ځي؟

خیږي زولنو نه شرنګاشرنګ څه مست بیا د لیونیو کاروان چیرته ځي؟

برغ د تسبو ورک دی په امونو کې پوه شوم چې په شپو شپو شیخان چیرته ځي

بیا دیار کوڅه کې دي قطار زړونه دا د سر و سکروټو توفان چیرته ځي؟

لاره ئې کږه زمونږ له مېنې کړه بیا دا مرور بهاران چیرته ځي؟

لاس اوګریوان ویښه تل شپه او ورځ دا سره د ښمن دوه یاران چیرته ځي؟

کور د زړه مې جوړ کړ په نامه ورته وئې پوښتې یارانو جانان چیرته ځي؟

ګرد ئې د سفر چې کله پاک نه شو دغه سترې سوی ارمان چیرته ځي؟

جګه چې غوغا ئې وه په هر لوري هغه د وطن ښنه زمریان چیرته ځي؟

زړه مې چا په خوا پورې ونه نیوه
وثاري چې اوس دا افغان چیرته ځي؟

۲۰۰۲/۷/۲۱

پفافنهوفن

# د وطن د موراولاد

مسلمان که مې دی   سپین  ددواړو سترګو
نو هندو مې دې ددوو سترګو تور

د سني او دشیعه   توپیر  مې   نه موند
ټول جهان مې پسې وکوت کور په کور

هزاره، ترکمن، بلوڅ، پښتون، او زبک
پنځه ګوتې؛ د یو لاس دې د سوک زور

پشه یې،نورستاني او  قزلباش  هم
دي زامن   د افغان پلار  ،  افغانې مور

په   جملو   او   کلمو  کله بیلېږي ؟
ده  پښتو  د  دري ژبې    سکه خور

دتاریخ  د معلم   نوی   سبق  دادی :
چې پرون دی وو تربور ، نن ددې ورور

که مې   وینه  په رګو کې  پښتنه ده
هر تاجیک  ګڼمه  خپل سکنې ورور

دوطن دمور     اولاد  یو   بې توپیره
یو مو ژوند دی، یو مو مرګ او یومو ګور

بیلوي   او  جنګو ي  مو    دښمنان تل
دتاریخ   لاس   به یې  مخ کړی ورته تور

۲۰۰۱/۶/۱۷

پفافنهوفن

# زما زړه

زه ددنیا خلکو نه ها خپل نتلی زړه غواړم
یا چې ورته وَرته وي هغه ښاغلی زړه غواړم
نه پوهیږم چیرته د چا حسن ته بیخوده شو
تله کې د ې مینې چې دې سپک ختلی زړه غواړم
ویلې شو د چا په بد حالۍ کې د احساس په تاو
سوز د انسانیت باندې مدام ، داغلی زړه غواړم
لوی وو ، د غمونو او زغمونو خزانې پکې
هغه د جفا په داړه چور، سیځلی زړه غواړم
چا کړ تر پښنو لاندی، که لاړه عرش ته وخاته؟
دا د تواضع او د غرور منلی زړه غواړم

هغه چې زِمه ئې وه ا خیستی د دنیا د غم
هر چا چې په وار باندی دي خپل،ځپلی زړه غواړم

۲۳/۷/۲۰۰
پفافنهوفن

د اروا ښادحمزه شینواری د«چې دې زلفو ته نظرکړم لیوني خوبونه وینم چې د وويمه سترګې غرځني خوبونه وینم» په اقتفا

## یاغي خوبونه

چې دې وګورمه سترګې لیوني خوبونه وینم
چې دې زلفو بوی دې راشی غرځني خوبونه وینم
د غربت په تړږمو کې د تیارې بلا اوریږي
چې بریښنا دې دې غاښو شي توفاني خوبونه وینم
ستا د کلي په کوڅوکې خو ځای نه شوه زما مېنه
د جنون په ځنځیرو کې سارانې خوبونه وینم
نن په داسې اور ولاړ دی چې قدم د سبا سوځي
د « لمبو کلي» (۱) ته ګورم ،پروني خوبونه وینم
د زمان د لوبو پای ته، د نظر سر نه رسیږي
دې ملنډو ته ژړا کې، خندني خوبونه وینم
ورین تندي ته د تقدیر مې نا هیلیو ماته ورکړه
د يو وړ امید له توري میړنی خوبونه وینم

د زمري دسترګو کنج کې لا د اوښکو ځاځکي ښکاري
ددې ستورو له ځلا نه ، څه یاغي خوبونه وینم

۲۰۰۲/۱۱/۱۷

پفافڼوفن

(۱)زمونږ ګران وطن او زما دشعرونو دوهمه ټولګه

# عشق

ټول ښایست د ژوندانه دی د عشق زړه کې
جهان پروت دی په سجده دده په وره کې
عظمت دی ، که عزت دی او که پت دی
همه واړه دي ټول شوي دې کاله کې

۲۰۰۱/۶/۳

وین

# نیمګړي یارانه

د مستو هیلو دماتم   په شور تندیږدمه زه

داغ  د تقدیر ته  د جفا په لورتندیږدمه زه

چې د وفا ګلان تالا والا  شول ،ورژیدل

د سو ځیدلي تور بلبل په سکور تندی ږدمه زه

چې سترګې پټې کړمه دود مې له دماغه شی جګ

ستا  د یادونو او جفا په اور  تندی ږدمه زه

پرې چې چینجې مې د ناکام   محبت آجر  راکړي

بې جنازې د خپل آرمان په ګور تندی ږدمه زه

تر څو  ئې   پټ زه   ددنیا له    ستغو سترګو کړمه
ستا   د  نیمګړي   یارانی   په تور   تندی   ږدمه زه

۲۰۰۰/۷/۲۳

پفافنهوفن

# یرغمل

دزماني د کرېلیچونو د تیارو له تل نه
د خفاشانو په خیر ،
د لوټمارانو ډلې ...
یوه په بلې پسې.....
شوي را بهر په بیړه ؛
او یو ملت ئې یرغمل ونیوه....
یوې ترې برم د تاریخ وغوښته
یوې شمله د عزت ،
یوې غرور او عظمت ورځخه ،
اویوې بلې آزادئ او سوکالئ ورځینې ؛
هرې یوې ولوټه ،
هرې یوې وشکاوه ،
هرې یوې وواهه ، وټکوه وځوراوه ؛
ورنه یې هر څه ویوړل .

خو دی لا اوس هم یرغمل پاتې دی ؛
او تر ځې شپې تیروي .

۲۰۰۰/۷/۲۵
پېښاور

# ګل

لاړلې ته ترخه يادونه دې په ما وکړل
مدام پرې سوزمه اورونه دې په ما وکړل
ستا د وړې خولګۍ، نرۍ ژبې زخمونه دې دا
يا دا ناسور ناسور داغونه دې په ما وکړل
د اداء ګانو د جلوو او ناکردو په لاسو
د تېرو تورو ډک فصلونه دې په ما وکړل
دذهن شپه کې مې مشال دی چې بليږي راته
رڼا ئې نشته تور دودونه دې په ما وکړل
سترګې که وګنډم د اوښکو لار به بنده کړمه
د زړه په تل کې فريادونه دې په ما وکړل

ستا د تصوير او تصور نه چيرته وتښتمه
د ليونتوب ترخه تخمونه دې په ما وکړل

۲۰۰۰/۷/۲۳
پفافنهوفن

# تسلا

د غم تیارو ته مې له اوښکو نه رڼا ورکوم
په دغو ستورو مې د ژوند هسک ته ښکلا ورکوم
د تللي یار د بیا راتلو دزیرې طمع لا شته
په دې خوښۍ مې زړ ه ته هر دم تسلا ورکوم
باز چې دزړه غوښو رووړد شي ، چیرته نه ځي کله
غم د جانان ته مې دزړه په خوان سلا ورکوم
د غم له زوره مې خپل نوم او ځان له یاده ووت
زه خوار به چا ته ښکلی نوم د محبوبا ورکوم
دې مړه وجود او مړاوي روح نه دژوندون ساه تللې
په اسویلو کې ورته دم د مسیحا ورکوم

جفا وژلی ، یار رټلی ، دنیا او ر کې سوی
اسد زمري ته به زه څنګه تسلا ورکوم

۲۰۰۰/۸/۱۰

پفافنهوفن

# زمري کتل

را چې شې نو هڅه دې وي تللو ته
بېړه په څه کړې زما وژلو ته؟
هغه خونړۍ سترګې دې وکړځم
ښکار ي تل تیارې چې وېشتلو ته
ناز ، خرام ، ناغه ، جفا ،آزار او قهر
شمه زه لوګی دې نازولو ته
چېرته څوک قاتل هم په جرګو لیږي ؟
ستا بانه کاره دې لمسولو ته
پروت چې مې نظر تل ستا په شونډو دی
سکور سکروټې غواړي بلیدلو ته

چانه دې زده کړي دا زمری کتل؟
شول دې غرڅني ، زړونه نیولو ته

۱۹۹۹/۶/۳۰

## څلوريزه

چې فغان ئې له نامه خيبري افغان دی
چې لمبې ئې تل له زړه خيبري افغان دی
چې پيدا په بده ورځ دی بدې ورځ ته
چې ئې مرګ تل په کاله خيبري افغان دی

۱۹۹۹/۶/۳۰

## ددوزخ اور

ولې اور نه اخلئ ای بې ننګو اوښکو ؟!
د مور غم خو د دوزخ د تنور اور دی
چې زما په زړه لمبې راپورې شوي
ستر محشر دی چې مې وران د ابا کور دی

۱۰/۱۲/۱۹۹۳
فوهبورګ

## د مور په مرګ کې

تل که ستا په غم دزېږه په وينو رنګ يم
ستا په مرګ کې که په خپل ژوندون هم تنګ يم
خو چې نه په سترګو ږوند او نه هم مړ شوم
بې احساسه ، ډير سخت زړی او بې ننګ يم

۱۹۹۴/۱/۴

## مشال

د ژوندون د کږليچونو کړاوو کې
د زمان د حوادثو په څپو کې
ستا د مينې د مشال په رڼا دروم
د احساس او تعقل په تلوسو کې

۲۰۰۱/۲/۱۰
پفافنهوفن

# باور

د غربت توره نړۍ ده ، پکې یار او نه دلبر شته
نه په دې سکاره جهان کې ،زما د ګران وطن اثر شته
نه رڼا ملکوتي ده ، نه جلوه د ملا ئیکو
نه د حورو د وصال شوق ، نه نیشه ئې د کوثر شته
نه د لمر تندي ځلیږي،نه سپوږ مۍ په خرام خیږي
نه د ستورو مرکې شته، نه ماښام شته نه سحر شته
نه د بو ټو د نمو غږ ، نه دونو د مستۍ شور
نه ګلونو کې څه بوی شته، نه غو ټیوکې ساغر شته
نه څپې سمندري دي ، نه ځړوبو کې غوغا شته
نه ماهی ښوري اوبو کې، نه غواص او نه ګوهر شته

نه داور لمبه توده ده ، نه د یخو کنګل ښکاري
نه هوا ده سندریزه ، نه فضا کې شور او شر شته
نه له خولو نه آواز خیږي ،نه د چا غوږ ته څه رسي
نه د بوی اثر په څه کې، نه د چا روښان بصر شته
نه احساس د انسانانو ، نه خوښۍ او نه غم ښکاري
نه څه نخښه د زړه سوی شته،نه دغم شریک بشر شته

*****

هغه څه چې نن راغلي د افغان په عدن باندې
نه جوړه ئې دوزخو کې، نه قصه ئې په سقر شته
هر دریاب لمبه ،لمبه دی، ځکه خوځي لکه ټال نن
ته به وائې دې وطن کې نه دروند والی شته نه غر شته
توفانونه دي چې ښوري ، بلا ګانې دي چې اوري
نه د نوح څه اثر وینم ، نه دعاوو کې اثر شته

اسمانونه رالویدلي ، ستوري ټول را ټکیدلي
لمر ورک شوی دی له خلکو،نه ځراغ شته ،نه قمر شته
مرګ اوریږی په دې خلکو ، ویر ژړیږی په دې خلکو
دا وطن دماتمونو ، ده کې کله بل منظر شته
یا پری ډکې شولې کندې یا پرې ولویدل کمرونه
بې حسابه ، بی حسابه ، اوس نه کنده نه کمر شته
په غمونو کې اوبه شوه ، حوصله نوره د خلکو
چې به سل ځایه غوڅ نه وي نه کوم زړه او نه ځیګر شته
نن زمونږ د اوښکو موج ته، نړیوال هک او حیران دي
نه سیندونو کې ئې مثل ، نه ثاني ئې سمندر شته
څوک به داسې تالان جوړکړي،په خپل کوراوخپل کهول کې؟
نه مسلم چیرته پیدا شو ، نه هم دغسې کافر شته
مړي وکښل شول له ګوره، دا قیامت نه ده نو څه ده؟
کوم منکر ویلې دا وه :نه قیامت شته نه محشر شته
د تاریخ سترګې ړندیږي ،د فرهنګ مری غوڅیږي
نه د منعې مټ کې زور شته، نه څه نخښه د حذر شته
د یما توغونه سوځي ، د نوروز ډهلونه چوي
نه اتڼ د ځنډورو ، نه ښادي او نه اختر شته
په نغمو د بلبلانو ، د بندیز زولنې لګي
نه د ګل خیره غوړیږی، نه بورا ، نه ئې وزر شته
د وږمو ا و پر خپې مخ ته ، دي کړ کې زمونږ تړلي
د غوټیو غوړیدو ته نه ګذر شته اونه ور شته
له نارنج نه انځر جوړ دی ، ګل ئې نه ښکاري په سترګو
که ربښتیا هم لږ څه ځیر شئ، نه نارنج شته نه انځر شته
ستر قوت وو په دنیا کې د افغان میړني خلک
اوس ئې توره پڅه ښکاري،نه ئې زور نه ئې لښکر شته
چې پردو ته ئې ورنیغ کړي ، د غیرت په هوډ او ننګه
ددې خوار ولس په کور کې نه اغزی شته نه خنجر شته

دا چې خاندو یو تر بله ،دا دغم له زوره خاندو
کنه وګوري عالمه لا په زړو کې مو نشتر شته
××××××××××
د سبا په هیله پایو ، د رڼا په مینه پایو
په سپیدو د سباوون کې د یو نوي ژوند خبر شته
د یووالی متې ورکړی ، د یوه ملت زمریو
هیر ئې نه کړی چې نفاق کې دنیستی اومرګ ضرر شته
ځئ چې یو بل ته ډیوه شو،ځئ چې یوبل ته لاربنود شو
مونږ پخپله سترقوت یو،مونږ کې سراوهم سرور شته
دلته پاتی ککری دې د پردیو یرغلګرو
دې ولس کې لا تر اوسه زوړ قوت د ستر ظفر شته
له ماسکو تر واشنګټنه ، له تهران تر پاکستانه
تور لاسونه به غوڅیږی چې میراث مونږ ته جمدر(۱) شته
سترګې وباسی در جار شم د پردو د غلامانو
چې مو وژنی یو تر بله، خپل کاله کې مو دا شر شته
××××××
دا وطن به بیا وطن شي ، سره ټول به روح او تن شي
دا به وښیو دنیا ته چې په مونږ کې دا هنر شته
دا بیابان به بیا ودان شی ،دا میرې به ګلستان شي
یو به بیا سره افغان شی،په دی ملک کې دا ګوهر شته
بیا به جوړ نارنج محشر کړی ،له ښه بویه ننګرهارکې
ددې ونې اصیل بیخ کې خوندور اصیل ثمر شته
لاله زار به د مزار هم په خندا شي کندهار ته
د هرات په پاکه خاوره د ملي وحدت شرر شته
سره یا قوت دبد خشان به د پنجشیر زمرد ښکل کړي
ددې غرونو دزړو تل کې د وروری ښکلی زیور شته
د لغمان د پوهی څرک به د کاوون له څوکو واوړي
د هلمند په کنارو کې لا بی شمیره هنرور شته

تاکستان به د پروان هم د بامیان په اوږو خپور شي
په نښترو د پکتیا کې د ملی غرور اثر شته
د باد غیس د پستې خولې به د کنړ شفق ته خاندی
د وروری د وینو جوش کې دااثر او دا هنر شته
شبر غان به چراغان کړي د وطن تیاره کوټونه
ددې ځمکې دزړه تل کې دا ګوهر او داسې زر شته
د کفن پر ځای به پټ کړي، ژوندی تن ددې وکړو
د کندز ښکلې وادي کې بی پایانه دا سپین زر شته
د آقچې او مور غالۍ به د هغو قدم ته فرش شي
چې ئې ټول افغان ولس ته یواحساس او یو نظر شته
ټول به ټول په یوه خوان شي؛ دښمنان به مو پریشان شي
دا به ټوله نړۍ ویني چې نه ګوز مونږ، کې نه بر شته
بیا به شین شي له خندا نه دا سپیره کابل دنیا ته
تل دې ګران افغانستان وي څوچې دغه بحر او بر شته
بیا افسر به مې افغان شي دزړه سر به مې افغان شي
لر او بر به مې افغان شي د زمري دغه باورشته

۲۰۰۱/۶/۳

۱-د خوشحال خټک د توری نوم .

پفافنهوفن

# د شهید غوښتنه

ای د زړه سره زما،
د غم ملګریه زما،
ستا له خلوص نه لوګی
ستا له آرزو نه قربان .
زما مزار ته ګلان څله راوړې ؟!
زه له یخنی نه مړ یم ،
د دوو ورونو تر منځ،
د ملتونو تر منځ ،
د یوه وطن د یوه غره د دوو خواو تر منځ ؛
او د انسان د ا حساساتو ،
له یخنی نه مړ یم .

نو
ماته ګلان مه راوړه
زه د ګرمی تږی یم ،
ماته تودوښه راوړه ؛
د یوولی تودوښه ،
د ورورولی تودوښه ،
هله در ځار دي شمه

۲۰۰۱/۵/۱۰
پفافنهوفن

# زخمی لمر

ددنگو غروله څوکو،
دلمر زرینې وړانګې،
په خپلو سپینو او وربښمینو ګوتو؛
دنړۍ ور ټکوي،
لمر په ځلانده څهره،
او له خندا ډکه خوله،
هر یو رابولي د ژوندون لوري ته.
نوچې د شونډو رنګ ئې،
دسره شفق په وجود وغوړیږي،
لکه ځلانده غمۍ،
وبرېښي ، وځلیږي....
او د ښکلا یوه هنګامه جوړه کړي،
هر یو موسکی شي ورته
او د ژوندون په لوري،
د ژوند دنوی سباوون په لوري،
د کار او یو ن په لوري،
پاڅي او ګام واخلي،

د مازیګر په مهال،
بیا هم په ډیره مینه،
شونډې دلمر خلا صې شي،
په سپړیدلوشونډو او غوړیدلي تندي،
د رنګینیو او ښکلاؤ یو جهان وښیندي.
دمخه ښې په توګه،

ستړګه کړي پټه او د شپې راتلو ته لار پرانيزي
او خلک آرام ته پريږدي .
ورځ وی رڼه هر چیرته،
هر څوک په ژوند وي لګیا؛
خو دلته....
د«پامیر» جګه څوکه
د« هندوکش»د غرونو دنګه ونه،
د« بابا »هسکه شمله،
د« سلیمان»د تاج ها جګه جوغه،
د« سپین غره»لوړه پربنه،
چې داسمان زړه ئې له لاسه شین دی؛
د لمر سینه ګروي
او پرې راکاږي کرښې.
نو خندا هېره شي ترې؛
شونډې را ټولې او تندی له قهره غوټه کاندي؛
نو ځکه
لمر
دلته سپین نه دی ، سور دی .
دلته دوړانګو پر ځای ،
له سره ګوګله دلمر،
دوینو څاڅکي څاڅي
۲۰۰۱/۶/۱
پفافنهوفن

## کلی

خړ دیوالونه
شنه شنه کښتونه
قد قد فصلونه
دکښتو منځ کې
لکه پټاره
یوه نرۍ لاره
ښنلوي کلې
نړوي پولې
تړي ملکونه
پکې «ته» نشته
پکې «زه» نشته
ټول« مونږ» ځان بولي
دغه نومونه
دا توپیرونه

چې ځوروي مو
چې خواروي مو
چې بېلوي مو
چې جنګوي مو
چې ورکوي مو
هلته پردي دي
چې څوک ئې یاد کړی
چور لېوني دي
دغه دی کلی
زړه ته منلی
دوحدت کان دی
تاج دافغان دی

۲۰۰۱/۶/۳

## لغمان

د پوهنې ځلاند لمر دی ، د ښکلا د ملک اسمان دی
د جنت یوه ټوټه ده ، نوم پرې ایښی چا لغمان دی
له شیدو او شاتو جوړ ې دي ویالې دي که رودونه
پیغلې یې ښکلې ښاپیرۍ دي ښایسته یې هر یوځوان دی
یا پرې ښکلی شنیلی خپور وي یا غاټول پکې نخیري
یا وي فرش په زېړو ګلو هره دښته ګلستان دی
هر یو بوټی ئې لونګ دی ، هره ونه ئې شمشاد ده
په فضا کې ئې مستی ده، په هوا کې ئې بوستان دی
هر لښتی ئې لکه رګ دی ددې ښکلي ملک وجود کې
هر پټې ئې ته به وائې چې د ګو هرو ډک دکان دی
د توتانو هره ونه ئې لا ر، سپیدار ونې
له ویالو سره ملګرې تل د ولو لوی کاروان دی
چې فصلونه پکې شنه وي ښکاري جوړ له زمردو
چې پاخه شي ته به وائې چې د سرو زرولوځ کان دی
که د شولو ښه راغلی ته شالیزار لکه شیشه شو
شپه که هر څومره تیاره وی ا وطن لا ځراغان دی
تور لوګي ،زیړ مازیګر کې چې له خړو کورو خیږي
جوړ د شنه اسمان په زړه کې د رنګو نوترې توفان دی
الیشنګ او الینګار ئې لکه هار ښکاری په غاړه
هر یو څاڅکي د اوبو ته ئې صدف هک او حیران دی
چې تندی د لمر ښکاره شي نو کاوون ته ئې سجده شي
له غرور او عظمت نه دلته جوړ هر یو انسان دی
هره تیره ئې سنګر دی ، هره پرښه ئې ده توره
هر سړی ئې په غیرت کې له رستمه پهلوان دی

ولسونه لکه ورونه د یو بل خوا کې مېشته دي
د توپېر نوم دلته نشته هر یو ویاړي چې افغان دی
چې پیدا یې شومه غیږ کې ،کړي ده کې مې خا پوړې
دا زما دسترګو تو ر دی ، له ایمانه راته ګران دی

دی د ې نه شې له نظره ، تل دې و اوسې ښېرازه
د زمري د زړګي سر دی ځو ودان دغه جهان دی

۲۰۰۱/۵/۲۷

پفافنهوفن

# رنګینه دنیا

څه رنګینه شان دنیا ده     چې لیموکې د یار ناڅې
ناز،اداء،لطف او حیا ده  چې لېمو کې د یار ناڅي

وینې هله ټوله زړه شه راته ځای یې کړه وجود کې
دا د عشق خوږه سلا ده  چې لیمو کې د یار ناڅي

داسې ښکاري چې مې لنډې،نن لړی داندیښنو شوې
د وصال نوې سودا ده  چې  لېمو کې  د یار نا څي

«کوه نور»ته که ورین نه شوی نو تندیه  ښه دې وکړه
ته به زر شې دا کېمیا ده چې لېمو کې د یارناڅي

د  غمونو  په کاله  جوړ، نن  له  غمه لوی توفان دی
د  خوښیو  یو  غوغا  ده  چې  لیمو کې د یار ناڅي

د یادونو  دنیا کې  کې  سپېړي  بیا  هیلې ګلونه
دوفا  ښکلې  دنیا  ده  چې  لېمو  کې  دیار  ناڅي

سپیلنی شه  ،ترې لوګې شه،بد نظر نه یې وساته
څه  بې مثله شان ښکلا ده چې لېمو کې دیار ناڅي

تخنوي مې راته اوښکې ،خوشحالی ته مې رابولي
دې خوږ زړه ته تسلاء ده چې لېمو کې دیار نا څي

دزمری  خواره نصېبه څه دمرګ په خوب ویده یې
دغه  دم  دمسیحا  د ه  چې لیمو کې  دیار ناڅي

# شکوه

شکوه له ځانه ، له اسمانه ، له جهانه کوم
ګیله له ورو ر نه ،خپلې خور نه ، له جانانه کوم
ډیوه د اوښکو بلوم    د خاطرو      په مزار
رڼا د زړه د اور په تاو کې ،له ګریوانه کوم
په خپلې سترې پاکې مینې دنادودو قصه
په غم   لړلي بڼ ،له پیله    تر پایانه    کوم
پرده د زړه له مخې اخلمه ملګروراشئ!
دی تناره   نه لمبه   جګه تر اسمانه کوم
اسره مې یارته د وفا وه چې ناکامه شوله
توپیر به څنګه د وصال اوس له هجرانه کوم
تو ښه د ژوند مې د کاروان ملګرو ولوټله
دې وران بازار کې به سودا څه له تاوانه کوم
ایره د هیلو دوړوم د خپل وجود په وطن
کفن د ښو هڅو اندام ته له خپل ځانه کوم

لمبه په سرد داد غوښتنې وره ته منډې وهم
زه    به شکوه  هلته  له لاسه  د سبحانه کوم

۲۰۰۱/۶/۹

پفافنهوفن

# مات

«مات» ئې چې د یو نظر کتو نه شم
دود دي له دې سترګو سرو لمبو نه شم
تاته چې د بد و سترګو سپر ګر ځي
کاش ددې مجمر له سپیلنو نه شم
و به بولم هغه وخت خندا ځانته
خلا ص چې له ژړا او له سلګو نه شم
خپلو د یو سف کا نې را وکړلې
څنګه ګیله من زه له پردو نه شم ؟
ما ته چې کنګل لکه سکروټه شي
پټ زه له لمبو که له اوبو نه شم ؟

ته وې د زمري په خوله کې شپه او ورځ
ځار دې د نامه له ترانو نه شم

۲۰۰۲/۱۱/۱۷
پفافنهوفن

# دافغان ولس فریاد

د زړه ژور زخمونه مې ګنډلي نه دي چا
ځګېروي او اوسیلي یې اوریدلي نه دي چا
د ژوند له نغري نه مې ایرې وې تل په برخه
لمدې غوښې دتن مې تل داغلي نه دي چا؟
د هېلو له وجود نه مې لمبې دي تل ختلي
دا سوې ارزو ګانې مې ژغورلي نه دي چا
طبیب راته جلاد شي شوکران مې مخ ته کېږدي
له حاله مې په مینه هیڅ پوښتلي نه دې چا
دیار او یارانې په لټون اوړم په دښمنو
چې لاس مې وراوړد کړي دي پریک کړي نه دي چا؟
د غرو او صحرا کاني یم له هر څه نه یم لیرې
په سهوه کې خواږه ماته کتلي نه دي چا
پردي د پردیتوب په جرم ، خپل د خپلو لې
نادودې خپلې ما نه سپمولي نه دي چا
اسمان ته که لاس جګ کړم نو تند ر ونه په ما اوري
یا داسې څه چې هیڅ هم اوریدلي نه دي چا
جنون به هم شي تنګ په ما که ور یې شمه غېږ ته
رټلي په د نیا کې هیڅ منلي نه دي چا

سزا دعمل حق ده خو زما په حق کې نه
د ښو په بد له کې بد راکړي نه دي چا؟
چې څه به شي را پيښ نور، راته پته يې لا نشته
زما دلارې پای ته لا ليدلي نه دي چا
تنديه ته دې مات شې چې دې مات راته ورمېږ کړ
درا نه فکرونه سپکو ته سا تلي نه دې چا

هېڅ پوه نه شوم د ژوند په خوند زمريه تر دې دمه
زما د تقدير لېکې لا لوستلي نه دې چا

۲۰۰۱/۶/۸

پفافنهوفن

## پامیر

په لوړوا لي کې له هسکه هم اوچت دی
د نړۍ د کا له بام ، د افغان چت دی
د « با با » او د«سپین غره» سکنی ورور دی
دا «پامیر»دی چې زمونږ د پګړۍ پت دی

۲۰۰۱/۶/۳
وین

## د ژوند لوبه

ژ و نده ! لوګی شې چې لوګی دې کړمه
وخته ! لمبه شې ، سپیلنی دې کړمه
زه د وطن د سردرو ګر بت وم
د غربت ملک کې تور کودی دې کړمه

۲۰۰۱/۶/۱۰

pafanhawfan

دیدن

چې کله ومې لیدې .....

نو درته محوه شومه ،

چې دې مړه وویڼم ،

له سر تر پایه پورې ...

ټول سترګه ،سترګه شومه ؛

خو اوس چې نه دې وینم ،

نو هره سترګه جلا ،

یعنې چې ټول بدن مې ،

در پسې وینې ژاړي ،

او تیر ساعت بیا غواړي

۲۰۰۱/۶/۱۱

پفافنهوفن

# لار ورکی

ستړګې مې نه وې خلا صې کړې چې د مور په نس کې ،
زما غوږونه د چاودنو کېږنکو غږو وچوول ؛
او ما تر خپلې ژړا وړاندې:
یوه سوزناکه کریکه،
چې مې د مور په بدن
د توغندي له ټوټې
د ټپ له سوزه جګه شوې وه
هم واوریدله؛
مور مې ټپي شوه او زه وزیږیدم
*****
ټول چا پیر یا ل زما لمبه لمبه وو ؛
ماته د ګلو د غنچو پر ځای لمبې ډ ا لۍ شوې
او د بار وتو........
د لوګیو.......
د ا نسان د کباب شویو غوښو تند بو یو نه .
زما خوښۍ کې چا توپک ونه و یشت ،
خو د راکټو او بمونو.....
د دهشکو او هاو ا نونو....
د ما شینګدارو او ماینونو...
وحشي او جګ غږونه ؛
له هرې خوا نه را تلل .
زما خوښۍ کې هیڅ چا ونه خندل،
د کریکو...
چیغو ...
سا ندو.....
او له سوزه ډک د ژړا غږونه ،
له هرې خوا نه ر ا تلل؛

او د شیدو له خوند نه وړا ندې
ما ددردونو او د وینو مزه و څکله .
د تپې مور له سینې،
ما له شیدو سره د وینو ډک غړپونه کړل.
د تپې مور له غېږ ې،
ما د دردونو، عذا بونو احساسونه کړل
د تپې مور له شونډو؛
ما د خند ا و په ځا ی،
او خپل ماشوم ته د یوې مور د موسکاوو په ځای؛
د غاښ چیچې ،
او نا لښتو ترخه سیلونه کړل.
اوله ورځ د ژوندون ،
دغسې پیل کړله ما.
سبا ته پوه شومه چې :
پلار مې د جنګ تورې بلا خوړلی
او د خپل ورور په لا سو،
د بل د تور تو پک د خولې نخښه شو؛
تره مې هم ګوډ وه او پښه یې نه وه؛
ماما مې تل بهر وو،
د کور په ځای یې همیشه په غرو کې ژوند تیرا وه؛
د نیکه سترګه مې ړنده په ګولۍ؛
نیا مې له ډیره غمه ،
ډیره ذهیره او زړه ښکا ر یده.
او د وحشت سپیره ګردونه مدام،
زما د ورور او خور پر مخ پراته وو.
د ترور ، توړی نومونه ،
ماته تر اوسه پورې،
لا کوم مفهوم نه لری؛

ما دوي هیڅ ونه لیدل ،
اونه هم نور کوم خپلو ا ن .
چې د خاپوړو شومه
او لږ د لوبو شومه

نومې مرمۍ،خول، نارنجک او یا تو پک لیدلی،
یا مې تور ټانک، راکټ او یا خالي پوچک لیدلی ،
په مدرسه کې یې ماته
لوست د وژ لو راکړ ،
شمېرمې بیا هم له توپکونو ، راکټونو او بموسره وو
یا له ټپیا نو ،شهیدا نو او له مړو سره وو .
ماته یې دا وښودل:
که دوه کافره کړو مردار
نو به له لسو ځنې ،
اته ګولۍ ځا نته خوندي ولرو.
مکتب ته تللی نه یم،
پوهې بللی نه یم،
هیڅ چا ګڼلی نه یم؛
پرته له خوارې مورکۍ
چې غېږ کې یې ونیولم
اود خپل ستړي ژوندون،
او خپل د سوي ژوندون،
دتا لا شوي او لوټ شوي ژوندون
د ستو ما نۍ د ورکېدو په هیله
د یو سکوت او سوکا لۍ
اود یو ژوند
د ا نسان ژوند ته
درسیدو په هیله؛

له ملکه وا یستلم ؛

*****

سترګې مې خلا صې شوې د غرب د نیا ته
دغه زرین مرغه ته ؛
او په پردي فرهنګ وروا ښتمه ؛
زما په سترګو کې لا ،
دا توان نه وو چې زه ،
هر څه روښانه، هر څه ښه ووینم ؛
زما د ذهن په خالي کوڅو کې ،
د غرب د شور اود غوغا غږونه ،
د بې پا یا نه ښادی ،
د بې پردې او بې وسوا سه بد مستی شورو نه ؛
هره خوا و غځید ل .
او زه لار ورکی شومه
اوس سرګرد ا نه ګرځم ،
نه مې وطن چیرته پیدا کړ، نه مې مینه خپله ،
نه مې د پلار سیوری ته کښینا ستم په مینه چیرته ،
نه مې د ورور او خور په مړینه شوم غمګینه چیرته .
نه مې څوک خپل ګڼي اوس
نه مې د بل ګڼي اوس ،
خو زه د سوي ، تالا شوي هیواد ،
د ځپل شوي هیواد ،
د یو ه هیر شوي او له نړی نه نفرین شوي هیواد....
« افغانستان» اولاد یم
سوځم او ژاړمه تل
او همیشه نا ښاد یم

۲۰۰۱/۶/۱۵

پفافنهوفن

# ګواښ

ما به د اوښکو ډنډ کې نه لمبوې

ما به د ساندو په سوز نه سوځوې

زه د لمبو په تل کې سور سمندر

ما به د څرې په اور نه ويروې

زه له يرغل او د بريو ستړي

ما به د جنګ ډګر ته نه هڅوې

زه د لوټ شوي سر منزل لاروی

ما به د جل په ځلا نه غولوې

زه د سجدو او پرستش نه بيزار

ما به د چا پښو ته نه ټيټوې

زه د تقدير ليکو ته اور د نيستۍ

ما به په دغو لومو نه بندوې

زه د اجل په کاله چيغه د مرګ

ما به د مرګ په قاصد نه ګواښوې

زه په څپانده سمندر کې ماڼو

ما به په زوږ د نسيم نه تخنوې

زه مې د ژوند څراغ ته اور لګوم
لکه نړۍ ځانته لوی کور لټوم

۲۰۰۲/۷/۱۲

# چاودلی زهره

خپل په لاس مې کړي دي په ځان با ندې
څه به د روز ګار له لاسه سر وهم ؟
نن چې د همزولو د ملندو یم
څه به د پرون په زور تېتر وهم
لیکه د تقد یر مې اړول غواړم
ځکه مې تندی په هر یوه در وهم
بند که د پولادو په قفس کې شم
تل د ا لوتو په خیال وزر وهم
وچاوده زَهره د حوصلې نوره
څومره به داغونه په ځیګر وهم

پام چې په ماتم مې سترګې سر نه کړئ
ګور کې به لیمو با ندی نشتر وهم

۱۹۹۹/۷/۲۳

# حسرت

د یوې د نګې ونې ښکلې ښاخ کې،
یوه مرغه ځا نته له مېنې نه کړه ځا له جوړه ،
نه ئې د لوږې څه سوچ وکړ او نه هم دتندې ،
نه د یخنۍ او ګرمۍ .
په ورځو ورځو او په شپو شپو ئې
ګرمه ، تبجنه ، هیله منه سینه
په بې نفسه او سړو هګیو ومښله
څو چې بچي ئې وشول،
بیا یې هم شپه او ورځ یوه کړه په ځان .....
دا نه یې راوړه او په ګېډه یې ماړه وساتل ؛
لا یې وزرونه ا لوتلو ته جوړشوي نه و ...........
چې یوې تندې سېلې ،
بچي له ځا لې نه را وغوځول
نه الوتی شول پورته ،
نه ئې په مځکه د ژوندون وس درلود ،
خوار او حیران ئې په حسرت د ځا لی لورته کتل ،
او د مورد ګرمې او خوږې غیږې ارمان یې کاوه.........
××××
د زمانې سیلېو
د ګران وطن له غیږې،
مونږ هم ددوي په شانې؛
لاندې ګوزاره او بې ځالې یې کړو ،
او دادی هره شېبه ،
د خپل وطن ، د تودې غیږې په حسرت کې سو ځو .

۲۰۰۲/۱۱/۲۷

پفافنهوفن

# ستړي يادونه

هغه آسماني يادونه چيرته دي ؟
ښکلي پروني يادونه چيرته دي ؟
نن دا ند يښنو نيزې راسيخې دي
مست او ليوني يادونه چيرته دي ؟
اور مې د لمبو له ګرمۍ و تښتيد ؟
خپلو نه پردي يادونه چيرته دي ؟
خيال د يوه خيز هم سر ته نه راځي
هغه شاهيني يا د و نه چيرته دي؟
لاس او پښې وخوړې ځنځېر رانه
اوس ها افغاني يادونه چيرته دي؟
هيلې- اميدونه راته مړه شوه ټول
ستا مسيحائي يادونه چيرته دي ؟
د لته کړي غربت، هلته و حشت توفان
ستر نا خدائي يادونه چيرته دي ؟
بيا به دې اغزي په سترګو وکاږم؟!
هغه طو طېا ئي يا د و نه چيرته دي؟

ځو به زه سفر او هجرت ژاړ مه ؟!
ستړي وطني يا د و نه چيرته د ي؟

۲۰۰۲/۱۲/۷
پفافنهوفن

# پرون او نن

د ژړا په وخت کې اوښکې توئېدې پرون له سترګو
خو ، قهقه ده چې جګیږي ، نن ژړا سره له خلکو
د ناموس او عزت نوم نه ، څارول سرونه ټولو
دا نومو نه لاړل ورک شول ، له حیا سره له خلکو
میړ نتوب او باتوري به ،تل خاصه وه د نرانو
خصلتونه شول بدل نن ، له دنیا سره ، له خلکو
خوا خوږي په چا کې نشته هره خوا د ځان سودا ده
غمخوري ده ورکه شوې له عزا سره ، له خلکو
مور د زوی په تیغ حلاله،خور د ورور په ګولۍ مړه ده
چې آدم (ع) دې نن هیر شوی له حوا سره له خلکو
سره ټول دښمن دښمن دي ، له انسا نه لیوه جوړ دی
محبت په اور کې سوځي له وفا سره له خلکو

دروغ زوال وو دایمان تل ، په نظر د هر مومن کې
نن ایمان ده کډه کړې له ربښتی سره له خلکو

# د نارنج زړه

جنګ کې مو څهره دامن هیره شوه
مونږه نه سودا د مامن هیره شوه

څنګه شوخراب بهار،بهار وطن ؟
اوس ورنه سیالي د عدن هیره شوه

نن د پسر لي خوند وینو وړی دی
ځکه مو آرزو د چمن هیره شوه

جګ فغان له کوره د افغانه دی
ځکه نو خندا د غمجن هیره شوه

جوش د پسرلي ، زوږ د مستۍ څه شو ؟
ګل نه دروازه د چمن هېره شوه

لا ده د چاودنو هنګامه ګرمه
ویره له هر چا د کفن هیره شوه

رنګ نن د ماتم جامې اغوستي دي
پر خپې نه خندا ماسختن هېره شوه

بو تې لا ویده دي تورو خاورو کې
خوارو نه آرزو د رستن هېره شوه

پاڼې لکه زړه د افغان مړاوې دي
ونو نه سیالي د هسکمن هیره شوه

تور بلبل د زړه په وینو سور ښکاري
ګرمه ولوله د سخن هیره شوه

ناست بورا په ورانه کنډواله ژاړي
مسته زمزمه د سمن هېره شوه

نه څري هوسۍ په ورشو ګانو کې
اوس ترینه نافه د ختن هیره شوه

نه خوځي وږمه د سباوون دلته
چیرته ئې سودا د چلن هیره شوه

نه ښکاري سیلونه د مرغانو نور
تنده ولوله د شکن هیره شوه

هغه د لاله و سارانی غوغا
لاړه نن د دام او دمن هیره شوه

شاخ د غا ټول متې د ځوانانو دی
پیغلو نه میله د دمن هیره شوه

موج د ښکلا څه شو چې ډوب هر څه
ګرمه هنګامه د ګلشن هیره شوه

نه د طراوت اونه د عطرو جوش
څنګه آوازه د عدن هیره شوه

ډک د نارنج زړه دی له تنباکو نه
ګل او شګوفه ئې سبږن هیره شوه

نشته د شپې زړه کې د مستانو شور
ژوند نه اوس کوڅه د وطن هیره شوه

څه شول څښور او بریتور ځلمي
چیرته ولوله د آتڼ هیره شوه؟

پیر د خرابات او مغان چیرته دی؟
سترګو نه څهره د پټمن هیره شوه

ټول میین د غم په جبل پریوتي دي
هر یو ه نه خوښي ددیدن هیره شوه

باغ او پسر لی کړ کارغه اېل ځانته
ځکه نن قصه ددښمن هېره شوه

باز او شاهین د واړه وزر ماتي دي
اوس ورنه حمله د زغن هیره شوه

ماتې د اتل کروړ چا متې کړې؟

ځغاسته ئې د غشو د من هيره شوه

کانې ئې د باران په ځای را وشيندل

مونږ نه يارانه د هسکمن هيره شوه

هر عاصي اوس لته د ثواب کې شو

شيخ نه واهمه د مدفن هيره شوه

وخت د شرم سيند کې کړل لاهو هر څه

ځينو نه سودا د لمن هيره شوه

در ست افغان د ځان په غم اخته ښکاري

ټولو نه سودا د وطن هيره شوه

نه ننګيري دا ويده ويده ولس

کريکه نن د هر لوغړن هيره شوه

ځان باندې که بلې کړې لمبې زمری

نورونه ګرمي د خوږلن هيره شوه

۲۰۰۲/۱۲/۱۱

پفافنهوفن

داروا ښادحمزه شینواري دددې شعر په اقتفا چې وایې:
چې بې تا چاته ټیټ نه شي ننګیالی زما ژوندون کړه
زما زړه دې مسلمان وي ،تفکر مې د پښتون کړه »

## خواست

مرو ر بهار مې زر ، زر په وطن بیرته را ستون کړه
دا خزان ،خزان چمن مې، راته بیا هسې ګلګون کړه
له همزولو نه شرمیږم ، یم د سیال له سیالۍ پاتې
بیا مې سیال کړه د سیالانو ، بیا مې هغه نر پښتون کړه
د تیارو په کندو الو کې ، د بلا په منګل ښکیل یم
هر یو ګام زما پاڅون کړه ، بریالی زما شبخون کړه
ډنډوره مې د کاله ته ؛له هر کوره را بهر کړه
د زاړه برم غوغا مې له پخوا راته افزون کړه
په پښو مې ز و لنې دې،لاس مې مات ، خوله مې تړلې
یا مې بند کړه د مرګ کام کې ،یا آزاد زما ژوندون کړه
سترګې نه شم غوړولی ، د بې ننګه ورورله شرمه
یا ئې سم د ننګ په لار کړه ، یا ئې خاورو کې مدفون کړه
د افغان د پګړۍ ولونه ، د لیلام په بازار خرڅ شول
ته ئې پت ورته پر ځا ی کړه ، ته ئې جګه تر پرون کړه
د نیکونو ټول قبرونه ، راته وران کړل نن ټا نکونو
دې مغولو ته یو ځل بیا،ستر خوشحال ختټک بیرون کړه
په یوه ټغر راټول کړه ، سره دا مرور ورونه
د غماز ئې بیا له درده ، شین ناولی زړه ، لړمون کړه

د وطن خاوره خو مونږ ته ، تر قدم لاندې وریښم وه
نن په هر ګام کې مرګ ښخ دی، دغه نن مې بیا پرون کړه
څه هم خپلو ، څه پردیو، دا جنت نه دوزخ جوړ کړ
د پردیو دې رنګ ورک شی ،دغه خپل په پیوستون کړه
د نفا ق او کینې زنی، مو له زړونو را بهر کړه
مونږ نه هیر دغه عادت کړه ، مونږ کې مات دغه تړون کړه
د غربت درد مو خاونده ! د ولس له تنه ورک کړه
هر یو بیا پښتن افغان کړه ، هر یو بیا هلته مسکون کړه
د خوښیو په باران کې غمځپلي ښه خړوب کړه
نور مې ختمې کړه دا سا ندې نور مې بس دا زړه چاودون کړه
د فا نتوم او میګ پر ځای مې ، خپل ګربت ته وزر ورکړه
زما خپل دغه دنګ غرونه ،د غم سر لره زنګون کړه
د هلمند اوبه مې کام کې، د خپل قوم زلال ،زلال کړه
د کنړ له زوږ او شور ، هر دښمن زما زبون کړه
کندهار کې انارباغ ته ، په مزار کې لاله زار ته
زما وینه ئې اوبه کړه ، ته ئې بیا راته زرغون کړه
د نارنج د ګل په بوی مې له میخوارو نه نیشه کړه
بیا مې «جام » راته را ډک کړه ،پیمانه زما جیحون کړه
ته مې ګل د زړه له کومې، خپل بلبل ته په خندا کړه
بیا لیلی مې ګل غونډۍ کړه ننګرهار مې بیا مجنون کړه
خوشحالی که نیکمرغی دي، هوسائې که سوکالی دي
لټوم ئې تل افغان ته ، بریالی مې دا لټون کړه

دغه سوال د عا جزی دی،خو ئې ته په ستر کرم خپل
هر یو حرف لکه سکروټه،هره کرښه ئې لمسون کړه

د شاغلي کاوون توفاني د «غلی نغمې» د شعر تر اغېزې لاندې

# کډه

د زړه ټوټې راټولوم د اشنا کلي نه ځم
د هیلو مړي ښخووم د اشنا کلي نه ځم
لکه بهار مې وه کوپړۍ له رنګینیو ډکه
اوس مات کچکول په غاړه وړم د اشنا کلي نه ځم
د جفا داغ نه د سپیځلی مینې سپینه لمن
په تړمو اوښکو پاکووم د اشنا کلي نه ځم
ګودر ئې وچ، باغچې سپیرې او کوڅې شاړی راته
ځکه مې کډه باروم ، د اشنا کلي نه ځم
دا مات قامت مې درووم د نا مرادۍ په پوله
د عبرت څلی جوړوم ، داشنا کلي نه ځم
دغه کعبه کې مې جا نان لیده د عرش په کرسۍ
د ر و غجنې سترګې ړندووم د اشنا کلي نه ځم
د لیونو په قدر څه پوهیږی ؟ پوه- هوښیاران
د عشق دوکان مې بندوم د اشنا کلي نه ځم

خپلې اسرې او ولولې او د ژوندون شورونه
ټول په ا و بو لاهو کوم د اشنا کلي نه ځم

۲۰۰۳/۲/۲۱
پفافنهوفن

# دروغجن یار

تږېنه راټولې دې اسرې کړه ،یار دروغجن وخاته
زړګېه هېرې یې وعدې کړه، یار دروغجن وخاته
دوفا هیله او د وصل طمعه مړه کړه ، زړه کې
ښخې د ټولو جنازې کړه ، یار دروغجن وخاته
چې پرستش ته دې وو ځانته تږېنه ، بت جوړ کړې
مات دې دا بت او بتکدې کړه، یاردروغجن وخاته
چې تېر اېستل او غولول دې ورته نازګانه تل
ورک یې مکرونه او پلمې کړه، یار دروغجن وخاته
دمینې عرش نه دې راکوز کړه دا ناولې مولا
هېرې یې ټولې ناکردې کړه ،یار دروغجن وخاته

(زمریه) څنګه به تسل ورکړې زخمي زړګې ته؟!
دسر منزل شمعې دې مړې کړه یار دروغجن وخاته

۲۰۰۳/۱۱/۲۴
دکان –پفافنهوفن

دا شعر زما او زموږ د سیاسی ژوندانه د حالت په اړوند لیکل شوی دی.

# د انګار په اننګو

روان مې دی د او ښکو سور قطار په اننګو
سکروټو ځینې جوړ دی ، دغه هار په اننګو
د چا د مستو سترګو تصور کې مې زړه مست شو
چې مات مې شو د یو عمر خمار په اننګو
د کوم ګلرخ په خیال کې وو اسمان ټوله شپه ویښ
دا پرخه ده که اوښکې د سهار په اننګو
بدل کې ئې ژړا د ټول عالم و ماته راکړه !
خندا ئې کړه تلپاتې د دلدار، په اننګو
دا چا په غدارۍ ، که په غلا ، وړی له کاله دی
د یار دزلفو بوی دی، د ګلزار په اننګو
شفق ئې په حسرت، غروب ئې سوځي له خجلته
قیامت دې چې جوړ کړی مې دی یار په اننګو
د ناز او د حیا په معرکه کې دا څه و شول ؟
ښکلا شوه یو په لسه د نګار په اننګو
بهار دی ټکنی ولاړ په وره کې د دنیا
په کوم مخ ځان ښکاره کړي،د روزګار په اننګو

ستي، ستي ژوندون او دا پلۍ پلۍ وجود کې
نور څه شي وي زمریه د انګارپه اننګو

۲۰۰۳/۱۲/۵

پفافنهوفن

# ستر ماتم

ولی نه ژاړئ ای خاوری او ای غرونو ؟!
ولی ا ور نه اخلئ ،وریځو او سیندونو ؟!
ولی نه سو ځیږی ای ونو، شنیلیو ؟!
ولی نه چو ی ای د تورو کاڼوزړونو ؟!
ولی نه دریږی ای د زمان څرخه؟!
ولی نه را لویږئ واړه اسمانونو؟!
ولی نه تو ئیږئ ای د اسمان ستورو ؟!
ولی نه تتیږئ ای کهکشانونو ؟!
ولی نه توریږی ای ځلانده لمره ؟!
ولی نه خوځیږئ غلو ، تو فانونو ؟!
ولی نه غریږی صور د اسرافیله ؟!
ولی نه ورانیږئ واړو جهانونو؟!

ستر ماتم دی مور مې مړه ده تنهائې کې
ارمانجن زړه یې چاودلی له غمونو

۱۹۹۳.۱۲.۱۰
فوهبورک

# د ښيګڼو مجموعه

ستا د سترګو په درياب کې ، تږی زړه لمبول غواړم
ستاد شونډو په لمبو کې د غمو سوځول غواړم
ستا د وصل په جنت کې ،دهجران دوزخ نه تښتم
ستا د مينې غيږ کې ګرانې،ستړی ژوندتيرول غواړم
ستا د زلفو په هر موج کې د نظر بيړې ډوبيږې
جل وهلې سترګې دلته لږ په دمه تړل غواړم
د سپوږمۍ له پلوشو نه ستا تصوير ته قلم اخلم
هنګامه دې د ښکلا زه په اسمان خيږول غواړم
ستا د غږ په سُر او لې کې موسيقي لټوي ځان خپل
ترنم کې يې د مينې هر سرود غږول غواړم

د ښيګڼو مجموعه يې خدای دی ساته له نظره
سپيلني غوندې دې مخکې داخپل ځان دودول غواړم

۲۰۰۴/۱/۴
ترکيه

## اور

سو ځيدل د ژوندانه دو هم مفهوم دی
شمعه مړه شي چې له سولو نه شي خلا صه

هر نفس کې هوا سوځي په سينه کې
دنيا تل د نغري دی له اخلا صه

سمندر هم د لمبو او اور يو کان دی
لاړ شه وپوښته دا راز ته له غواصه

د چا زړه کې چې لمبې د کينې نه وی
ټيټه نه کړي بخښنه تر قصا صه

د يوه آدم زامن وسول دې اور کې
څه توپير وو د عوامو له خواصه ؟

# عاقبت...

وعده د کور یې راته راکړه خو بې کوره یې کړم ،
له لوړې یې مړ کړم د ډوډۍ په طمعه ،
او لوڅ یې کړمه د جامو په هیله
اسلام یې لوټ کړ
راته .....
ددین ،مذهب په
نامه .
د آزادۍ په
پلمه...

مړیې یې کړمه ځان ته.
نورې به څه ووینم
لا خو یې پته نشته .

۲۰۰۴/۲/۷
پفافنهوفن- گیرمرینګ

# پسرلی

پسرلی شو ، د ګلونو کاروان راغی
د دنیا د بڼ منلی باغوان راغی

ځمکې لیرې کړه بړستن د سپینو واورو
د ویښتیا او پا څیدلو زمان راغی

رنګ اوبوی سره سیالي کړي د زړه وړلو
د جنون اوزړه بايللو توفان راغی

هر يو شی کوي ستونه مي نوشئ ته
د شو رو نو او مستيو دوران راغی

اسمان غاړه صا فوي مستو نغمو ته
په غړمبا د بر بطونو باران راغی

د انسان د وجود ټو لې ذرې نا څي
د خو ښيو او بزمونو سامان راغی

هر څيز ښيندي خوشحالي د هر چا زړه ته
چې د ټو لو نازولی جانان راغی

د زمري د اميدونو باغ کې زوړ دی
شئ تيار چې غوړيدلی ارمان راغی

۲۰۰۴/۳/۷

# د پسر لي سنګسار

عمرونه شول چې ځارمه پرې ،لار د پسر لي

ليمه مې شول او به ، په ا نتظار د پسر لي

په مونږه له ډير وخته د خزان سپيره مو سم دی

په ژمي دی خرڅ شوی ، مدام وار، د پسرلي

ساړه دي، تورې وريځې دي د لمر تو دوښه نه شته

نن څه ټکه لويدلې ،په کردار ، د پسر لي

مستان خمار، خمار ده، د مطرب ساز ونه مات دي

بلبله ګونګه شوې په ګلزار ، دپسرلي

نه پيغلې له منګو سره ، ګودر ته دي روانې

نه زانو دی جوړ کړی ، جګ قطار، د پسرلي

خالي دي وستلونه،د ځلمو له زوږ او شوره

تالا والا ښکاريږي ، نن بازار ، د پسر لي

ګلبوټي ټول پر ځای دي خو لودن ور باندی ورک د ی

ا غزي سپړي يوازی ، نن ماليار د پسر لي

بورا او بلبل ځکه د ماتم جامې اغوستي

کارغه ګڼي خاونده ! ځان واکدار د پسرلي

ګلا ن د غوړيدو له شوقه واړه لاس په سر شول

چې و ئې وليد سر ،زوړند په دار د پسرلي

طوطي ته د قفس پر ځای ، ډولۍ ده جوړه شوی

بدل ښکاري نن، ډول او سينګار د پسرلي

اشنا ورمه د ګلو، له دامان نه نه لګيږي

نن وينې او باروت لوښي ، عطار د پسرلي

«آزاد لاله » بندي دی نن د باغ په ديوالو کې

په زړه ئې داغ دی ايښی دې کردار د پسرلي

د شنو درو هوسۍ نن د سارا اغزو کې ځري
زمرو نه هم ورک شوی دی، نیزار د پسرلي
د « ستورو اود شپې څادر » زمونږ په مېنه خپور دی
څرک نه ښکاري په سترګو ، د سهارد پسر لي
خوږې، وږمې، لو خړې شوې ؛او تندر شوې چاودنې
بدل ښکاري وطن کې هر یو چار دپسرلي
کلونه شول چې پاټې د شنه صبر،تکې سرې دي
په وینو اوبه شوی هر کنار د پسر لي
څپې د خوشحالیو د ښکلا په سیند کې نه شته
ماتم ښیندي هر خواته ، کردګار ، د پسرلي
یما د سوما جام د اهریمن خولې ته نیولی
بخدي نه دی جوړ شوی نن ، مزار د پسر لي
توغونه خو زښت ډیر دي خو اشنا پکې یو نه شته
کاوه نه هم ورک شوی دی ، اسرار د پسرلي

را ځئ چې ژبه پری او لا س ئې مات کړو ورته غبرګ نن
د چا په خوله جاري چې شو سنګسار ، د پسرلي

۷/۳/۲۰۰۴
پفافنهوفن

# لوګی او لمبې

ستا له صنم ، صنم څهرې نه شم ځار
چې مې تند ي کې ، مړې سجدې ویښوي
د شو نډو رنګ دی ،د خندا په تاو کې
د صدف زړه کې، دردانې و یښوي
د مخ سر خي او د و یښتو توروالی
د غه لوګي، هغه لمبې ویښوي
سروې دې قد ته دی خپل سر ټیټ کړی
تګ دې هو سیو ته ،طعنې ویښوي
د ناز نېزې دې د مېینو زړو کې
د تودو وینو فوارې ویښوي
د مستو سترګو دا خمار کتل د ې
جامونه ویشي ، میخانې ویښوي
دا مو سیقي ده که خبرې دي ستا؟
چې سرودونه او نغمې ویښوي

کمان د وروځو دې،ګوګل ته زما
د تیرو غشو نښانې ویښوي

۲۰۰۴

پفافنهوفن

# افغان

چې له اُنس سره ملګرى شي انسان شي
چې پالنه د وطن کى قهرمان شي
دزمري،شاهين،ګربت خوى چې څوک واخلي
د غيرت يوه ټوټه شى او افغان شي

۲۰۰۴/۷/۲۸
پفافنهوفن

## مرور

له ځانه یم بیزاره ،له جهانه مرور یم
دوخت بلا خوړلی، له زمانه مرور یم

که ګل ته لاس وراوږد کړم نو مې مخ ته اغزي نیغ کړي
پردی یم پسرلي ته ، له بوستانه مروریم

قدم په قدم چوي راته تناکی د پښو
جرس غوندی فریاد کړم،له کاروانه مرور یم

که تندر ،که برلۍ ده ،که بلاوي دي یا کاڼي
بیدریغه یې راولي له اسمانه مرور یم

شغلې می دنیزې په څیر په سترګو ننوزي
تیارو یم ایسار کړی له رڼا نه مرور یم

وفا او محبت پسې عالم واړه تیپیري
زه مینې یم رټلي ،له جفا نه مرور یم

دژوند له تناره نه د لوګي په شانې تښتم
دمرګ په انتظار کې له بقا نه مرور یم

که سر مې کله ټیټ نه شو په عزم د سجدې
محراب نه توبه ګار له کلیسا نه مرور یم

آرزو او امیدونه،تلوسې اوتکلونه
چې واړه یې رامړه کړل له سبحانه مرور یم

سکه د نیکه زوی می د تربور په نامه وژني
له دغسې خپلوانو او آشنا نه مرور یم

په زړه کی می له ښو نه پرته څه نه وو ساتلي
چې ډک یې کړ له زهرو،هغه چا نه مرور یم

چې پرته له ازاره دې څه نه کړل را پیرزو
زما د پلار اولاده زه له تانه مرور یم

چې وينځې او غلام په سترګه ويني مور او پلار
له داسې زوی او لور سره پخوانه مرور يم
دخپلو کړو مې هيري کړي،نادودي دپرديو
دورور له لاسه وسوم ،له جانانه مرور يم

دعا کوی د ديو او دد کړم دادم دې اولادونو
دنن ورځې له خلکو او انسانه مرور يم

۱۹/۷/۲۰۰۴

پفافنهوفن

تاب

اوښکې وچې مې ډېر غم کړې په لېمو کې
ساه مې ووته له تنه په سلګو کې
تن مې وريت او زړه مې وچاوده عالمه!
څوک به تاب راوړي پنځوس کاله لمبو کې؟

۲۰۰۵/۵/۱۷

پفافنهوفن

## ساقي ته!

ساقي راځه چې په توبو وخیږو
په خپلو تېرو نا کردو وخیږو

سره راټول کړو مرور ملګري
هغه درزم او ساغر ملګري

تیته مستي کړو مړو رګونو کې بیا
ګډه کړو ماته ځنځیرونو کې بیا

دلمبو لپې که جامونه دي ستا
د نور کاسي مست نظرونه دي ستا

یاران یخنۍ نه دي کنګل وهلي
ځینی لا ښکاري چې ځنګل وهلي

کامونه وچ له تندې ، شونډې چاودې
سترګې دي وړې ،دزړه پوندې چاودې

چیرته ویده یې چې خپل ځان دې شو هېر ؟
څومره نیشه یې چې جهان دې شو هېر ؟

را پیمانه کړه مونږ ته بیا جامونه
ډک له سکروټو او رڼا جامونه

هله در ځار شمه تلوار کوه لږ!
هله چاره دتریخ خمار کوه لږ !

راشه لاهو مو کړه مستېو کې بیا
مونږ ه حساب کړه په هستېو کې بیا

چې په جهان نوې غوغا جوړه کړو
له رنګېنو ډکه دنیا جوړه کړو

لاسونه تاو کړو په ګډا شو سره
سرونه جنګ کړو په خندا شو سره

څو به خپل سر په مات ورمیږ ګرځوو
څو به مات زړه داسې په غیږ ګرځوو ؟

۲۸/۷/۲۰۰۴

افغانې ښځې ته د افغان نارینه اعتراف

# خجلت

ما مې خپلې خوشحالۍ ته ، ته لمبه کړې
هم مې غم کې د ژوندون یوه، اسره کړې
چې تیارې مې کړې د وران انګړ روښانې
ته مې را وستې او ځان ته مې ډیوه کړې
زه دې مست شوم له اداء او له خندا نه
ته مې جام کړې، ته مې مې او پیمانه کړې
ګام په ګام راسره سر په ورکه لار شوي
ته مې لاس ته خپل امسا،دزړه شیمه کړې

زه خجل یمه له دې داد او ګرفته
په بدل کې مې ته خره او خفه کړې

۲۰۰۴/۹/۲۴

پفافنهوفن

## د غر بت سوز

نه ځکېږوېو آرام راکړ نه سلګيو
عمر تريخ کړ راته دې خړو لوګيو
شپه او ورځ له سوزه کريکې زما خېژي
غربت وريت کړم تناره کې د خواريو

۲۰۰۵/۵/۱۷
پفافنهوفن

## عمر

ماشومتوب د شګو خلی وو باد يووړ
ځلميتوب د اور بڅرۍ وو، باد يووړ
د پوخوالي ميوه شنه رانه ورسته شوه
زړښت هم د ايرو تلي وو،باد يووړ

۲۰۰۷/۱۱/۲۷
ويسبادن

## بابلیان

روایاتو نه را پاتې دا قصه ده
په زړه پورې ،هم خوږه او هم ترخه ده
په یو وخت کې د ادم (ع) بنه اولادونه
د یوه کاله استوګن، خویندې ورونه
سره یو شول د د نیا کار او روزګار ته
کړاوونو، بد بختیو او هر کار ته
یوه ئې خوله وه ،یوه ئې ژبه ،یوګومان وو
کړه ئې یو وو، هوډ ئې یو او یو ئې ځان وو
ځانته ئې جوړه کړه نړۍ د سو کالیو
د وفور ، د راحتونو او بنادیو
نور څه پاتې نه شول کړو ته چاپیر یال کې
نو ئې نوي څه را وګر ځیدل خیال کې
چې اسمان ته دختلو لار پیدا کړي
د سپوږمۍ او لمر په راز هم ځان اګاه کړي
نو ئې پیل کړه د یوه برج په جوړولو
د زینو او د پلکو په جګولو
چې نا څاپه د «یهوه» ودوي ته پام شو
نو و خپلې خدائۍ ته ئې زړه خام شو
چې که دا خلک پیدا کړی لار اسمان ته
د رازونو او سوالونو دې جهان ته
هسې نه چې د خدائې هوا پیدا کړي
په جهان د پاچاهۍ دعوا پیدا کړي
نو په فکر کې د لا رې او ګودر شو
په تلاش کې د چارې ددې خطر شو
نو په دوي کې ئې پیدا کړ، یو توپیر
ډیر کاري ،خو وو ساده دغه تدبیر

ډيری ژبې ئې کړې ددوې منځ کې پيدا
هر يوه کړه خپله لاره ما سوا

پو هيدل نه د يو بل په ژبه دوی نور
سره بيل شول مور او لور ، ابا له زوی نور

اتفاق او وفاق لاړل ، بدبينی شوه
ښه وروری نه جوړه بده تربګنی شوه

که به چا وبل ته کړه نيک خبره
نو ځواب به ئې ګوذار وو نابېره

يو او بل ته دکو هيو په کيندو شول
په ماتم او ژړا سر، په ورکيدو شول

ورځ به هر يوه په بديوکې کړه تيره
نو د برج د جوړيدو خبر شوه هيره

مونږه هم چې کله وکړو اتفاق
د وروری ، د سوکالی او د وفاق

چې کړو جوړ دا خپل عزيز او وران وطن
نو د ښمن مو شي له واره اهريمن

مونږ کاڼه کړي خو سل خولې راکې پيدا کړي
هريو تن په نا آشنا ژبه ګويا کړي

خو ځيدل وينو د يو او بل د خو لې
خو پو هيږو سره نه په کلمې

يو له بل نه ليری کيږو د ښمنی کې
که نږدې شو سره وژنو تربګنی کې

که وه پيښه دا قصه په بابليانو
تکراريږي همدا اوس په افغانانو

۲۰۰۶/۲/۱۳

د ښاغلي کاوون توفاني د
«مینې په نامه » شعر په تړاو کې

که له سپر غۍ نه لمبه جګه نه شوه ،
نودا د تیږو په ساړه ذهن کې .....
چا داسې شنه کړل ؛
د لمبو فصلونه ؟
چا په سوزناکو کړیکو ،
هغه د تیږو زړونه ،
ها د سارا ډبري ؛
داسې کړل ویلې چې ترې
د سپینو شګو لو ی سیلاو جوړ شو
داسی سیلاو چې ئې دنیا ټوله په مخ و اخیسته ،
داسې سیلاو ته
د پای ټکی یوه اوښکه نه ده ....
او نه مرغۍ د هوا ؛
ښکلې، ځلانده ،بې بهایه مرغلره ده دا .......
پام چې بې قدره ئې نه کړئ !
دغه آبداره مرغلره به دوچو ونو بیخ اوبه کړی
په مړو شاخونو او نودو به ئې ګلان خپاره کړی
یو کې ځنګل به شي شین ،
کړي به بادونه مهار ؛
د تبر ژبه به له خټه ووځي ،
په هره څانګه کې به ځانګي د ګلونو کیږی ،
او د مرغانو ځالې
بیا به ددنګ غره د تیغې له اړخه
د شنه ځنګل په لوري ،

د ژوندانه په ولو ،
د لمر زرينې او وريښمينې پلوشې والوزي ،
او دا د باد او دباران کنډواله ،
دا دسيليو ژوبل ،ژوبل محل ،
به بيا زمونږ د آرمانو کلی شی .
دغه شين ستړکي اسمان ،
که نن ونه ژړل ددې کلي او باغ په حالت ،
سبا به شين شی له خندا نه ........
د تا سرو کلو ته !

۲۰۰۶/۲/۲۳

ويسبادن

سپرغی،د تيرو په ذهن کې،وروستی ټکی،که چی ونی مري اود باد په کنډواله کې د ښاغلی کاوون د شعری ټولګو نومونه دی

# پردی

زما تقدیر یې په سکرو لیکلی
فریاد زما یې په رنجو لیکلی

نا هیلې خپل یادګار زما په زړه کې
دی د نوکانو په تیرو لیکلی

د غم لړلي ژوندانه داستان مې
بیا اوریدو ته دی په غرو لیکلی

جنون د عقل په کوڅه کې وینم
په وره مې نوم د لیونو لیکلی

سترګې مدام ځکه په اوښکو وینځم
د جانان خیال یې په پردو لیکلی

د عشق کعبه کې مې چله نیو لې
د معبود نوم مې په شعرو لیکلی

پخپلو ښنو سترګو بد نه شم لیدای
بد مې په بد،ښه مې په ښو لیکلی

ښکلی احساس مې د غزل تصویر کې
په ترنم او ولولو لیکلی

څه مې له ځای او له نسبه پوښتې ؟
زمری دی هر چا په پردو لیکلی

۲۰۰۶/۲/۲۴
ویسبادن

# د ښکلا دښمن

د ویر سرود ته به تسبې څو اړوې ګوتو کې
د ریا لومې به لا څومره جوړوې ګوتو کې
دنیا لوبیږي د ګلرخو له زلفانو سره
ته دې زړې دُرې لا اوس هم اړوې ګوتو کې
د حورو مینې لیونی کړلې په دې دنیا کې
د دښمنۍ زیندۍ ښکلا ته ګر ځوې ګوتو کې
هر یو نخچیږي د ریا د رنګینۍ څپوکې
ته د ژوندون ګرمي لګیا یې سړوې ګوتو کې
د نوښت مینې دانسان زړه، له ګوګله وړی
د کړکې زویه ته هر نوی زړوې ګوتو کې

ذاهده خدای دې له کړې لاری نه سمی ته کړه
ګوتې دې ماتې شه چې جوړې ماتوې ګوتو کې

۲۰۰۶اکتوبر
ویسبادن

# زمری او هوسۍ

یو ځلي بیا راشه د زړه خونه رڼه کړه زما
ډکه له ستورو او سپوږمۍ نه راته شپه کړه زما
زه د ژوندون د توفانونو د څپو ځپلی
ساحل د مینې مې شه ، هیره دا څپه کړه زما
د خپل ښایست د پلوشو او ولولو په غیږ کې
محوه وجود کړه زما ، ورکه اندیښنه کړه زما
د هیلو بزم کې مې نشته ده د هیلو سرود
آواز دی پورته کړه او ګرمه ترانه کړه زما
جنت د وصل نه، طعنه ورکړه فردوس ته د خدای
حور او غلمان مې شه او غلې تلوسه کړه زما
د لیونتوب انګازې ښکاري چې ځنځیر ماتوی
مینه رسوا کړه ، دجنون جوړه پلمه کړه زما

ته به تر څو پوری هوسۍ او زه زمری واوسمه
خواته مې راشه تریبدلې ، لږ دمه کړه زما

اکتوبر ۲۰۰۶
ویسبادن

# د آذر معبد

جّل د هجران یمه وهلی د میرو تږی یم
د خورو زلفو د ماښام او د تیارو تږی یم

لږه مې َدمه ده آرزو ستا د ښکلا دیره کې
د قد شمشاد ته دی په زغرده د کتو تږی یم

لږه زما د عشق دنیا ته رڼایی راوله
د تا د مستو ښکلو سترګو د جلوو تږی یم

کله نا کله لاس راکاږه د بیوزلو په سر
زړګی مې وایي چې تل ستا د مسیدو تږی یم

څه درواغجنې ،دوکه بازې،جفا کارې ښکارې
د غماز سترګو ته مدام د ړندیدو تږی یم

د زمانې د بد رنګیو او دوکو نه شوم موړ
دې ټول جهان ته د اخلا ص د پیمانو تږی یم

مخ دی لمبه ،شونډې سکروټې دي،لوګی دې زلفې
د آذر دیمعبد ته زه تل د سجدو تږی یم

۲۰۰۶/۱۰/۲۲

ویسبادن

## زمری ولس

چې په ساندو کې یې ورک شور د محشر دی
چې له اوښکو یې جوړ شوی سمندر دی
چې خندا یې له خاطره کډه کړې
چې یې غوږ په ماتمونو کې ځیګر دی
چې ټوټې یې د وجود هر خوا پرتې دي
چې په وینو کې یې ډوب سمه او غر دی
چې یې شپه او ورځ دي غم باندې لړلي
چې ورک شوی ترې برات او هم اختر دی
چې هر یو پرې خپل غضب دی آزمویلی
که رحمان وو،که شیطان او که بشر دی
چې صرفه څوک پرې د ظلم او بیداد نه کړي
که مسلم ده ، که بیدینه ، یا کافر دی
چې هر چا دی په خپل وار باندې داغلی
که میلمه وو،که کوربه او که لښکر دی
چې د چا په خوله کې خیر ورته نشته
ګاونډیو چې جوړ کړی ورته شر دی
چې یې دوست ټوله نړۍ کې پیدا نه کړ
چې دښمن ورته هم ښکته او هم بر دی
چې ستومان یې مرګی شو په ځوانانو
خو لا تیره ورته زړه د خپل بشر دی

د عراق سل کربلاوی ورته هیڅ دي
دلته هر یو دی یزید ،هر یو شمر دی
چې وطن یې یوه لویه هدیره ده
چې له هره کوره جوړ ورته سقر دی

چې یې نوم دی نن سبا په ورکیدو کې
د ا زمری خو خوار ولس/ افغان ټبر دی

۲۰۰۲/۱۰/۲۶

# ا لیشنګ

چې د اسمان ستوري شي ټول د کهکشان په غېږ کې
چې مرغلرې واورېږي ددامان په غېږ کې
چې له جلوو او له رنګو نه توفانونه شي جوړ
چې یاسمن شی په مستئ د ګلستان په غېږ کې
هسې ښېرې الیشنګ د شنه لغمان په غېږ کې

چې د کرنج ممانې وزانګي د غرونو په ټال
چې د سالاو ښکلا شي غبرګه د ګلونو په ټال
چې د وایګل نخرې شې برې د فردوس سیالئ کې
چې د جهان پسرلی شي غونډ دیو افغان په غېږ کې
هسې ښېرې الیشنګ د شنه لغمان په غېږ کې

چې د سنګر ناره شی غبرګه د جهان سینې ته
چې د کاوون غاړه شی جګه د اسمان سینې ته
د ګنج ښامار چې مخه وکړي د دامان سینې ته
لکه جرس چې په غوغا وی د کاروان په غېږ کې
هسی ښېرې الیشنګ د شنه لغمان په غېږ کې

له دولتشاه نه چې ورمه د ورور ولئ شی جګه
له مندراوړ نه چې جرګه د خپلولئ شي جګه
له نورلامه چې نعره د تلولئ شي جګه
غیرتي زړه چې په مستئ وی د یو ځوان په غېږکې
هسې ښېرې الیشنګ د شنه لغمان په غېږ کې

د ملګرتیا بزم چې یې مخ ته الینګار جوړ کړی
نو د الماسو له دانو ، لغمان ته هار جوړ کړی
د ګلو فرش چې یې راتلو ته ننګرهار جوړ کړی
لکه بریښنا چې وځلیږي د باران په غیږ کې
هسې بهیږي الیشنګ د شنه لغمان په غیږ کې

چې له کابل سره شریک خپل مست مو جونه کاندي
نو درست هیواد کې بیا راویښ ټول ولسونه کاندي
له ستر کونړ سره اوږه ورکړي او ځي «آبا» ته
د لوی افغان بیرغ اوچت کړي د جهان په غیږ کې
هسې بهیږي الیشنګ د شنه لغمان په غیږ کې

دسمبر۲۰۰۶

# شنې لمبې

د زمانې په ځمکه ګوره چې لمبې شنې شوې
د ارمانونو په اسمان کې مو تيارې شنې شوې
د و خت په ګوتو د ښادۍ ناوې زِندۍ کړله چا
د سترګو کنج کې مو د وينو فوارې شنې شوې
د ژوند له کلې نه په تيښته د مرګ ښار ته راغلو
يمه حيرانه دا په مونږ ځنګه کانې شنې شوې ؟
ګلونه يوړل د افغان له ګلستانه نورو
دلته په هر ژوندي او مړي نن خازې شنې شوې
بيوسۍ نه پوهيږي نوره چې څه وکړي په مونږ ؟
چې په هر پل کې مو د قرن نا کردې شنې شوې
اهريمن جال دی غړولي خپل ، جهان ته دی نن
هر ګوټ کې وينو چې د سرو وينو چينې شنې شوې

دزمرۍ وَس له زړه او متو نه ، ګيدړو ويوړ
ځکه پرې هرې خوا د ننګ سپيرې طعنې شنې شوې

۲۰۰۷/۱/۷

ويسبادن

# دشپې نوم

ښادي ده ورنه هیره ،شو ،غمو سره عادت
ماتم یې عبادت ده- شو ، سلګو سره عادت
کاروان یې هره ورځ له ورانو کلیو نه روان دی
ژوندی و لس مې شو ، له جنازو سره عادت
د سر جګول ښکاري چې «ګناهء کبیره» ده
نو ځکه شوو هر چاته له سجدو سره عادت
شیطان زمونږه لمر د توروږمی په نیزو وویشت
لیمه مو چیری نه شي له تیا رو سره عادت ؟
ټپوس یې د ګوربت په ښه مخ کې ورته ایښی
عالم شو اوس ددغسې دوکو سره عادت
دوران دی د تیارو زمونږ په مېنه له ډیر وخته
هر یو شوو له ناکامه نوم د شپو سره عادت

اوس څوک دی چې به بیل کړي سره یو له بل په زوره
هزاره ،اوزبک .تاجیک شو پښتنو سره عادت

۲۰۰۷/۱/۸

ویسبادن

# غزل

د ژوندانه شور دې جانانه ، دی بنګړو کې ویده
د مینې لمر دې دی څه ښکلی په لیمو کې ویده
خپله ښایست ګوته په خوله دې دی ښکلا ته حیران
زر پسرلي دې دي ای ګلې اننګو کې ویده
قد ته دې سوزي د حسرت اور کې شمشاد او سروه
د ختن سلنخچیره دي دتا په تلو کې ویده
شونډې دې جام ،غوټۍ، یاقوت ،لعل که شربت وګڼم
چې واړه دي ددې ټېپې په دوه مصرو کې ویده
چې ته نظره نه شې ، زه به مې لوګی کړمه ځان
د عشق اور خو مې دی تل د زړه کوڅو کې ویده
د ښاپیرو او حورو نوم به نور په خوله وانه خلم
چې کوه قاف او اسمان دي درته پښو کې ویده
چا ویل دا چې جنتونه په عقبی کې دي ټول ؟!
ماته جنت دی که دې شمه په خیالو کې ویده

ډیر دهجران د اوږدو شپو له شوګیرو ستړی یم
لږ مې په مینه کړه د زلفو په تیارو کې ویده

۲۰۰۷/۱/۱۸
ویسبادن

## سوېمن خوبونه

د هجران لمبوکې سوځم، ډیر غمجن خوبونه وینم
د شوګیر په تورو شپو کې،څه خوږلن خوبونه وینم
د اوبو پر ځای په او ښکو غړو مه خپلې سترګې
په ویلو یې ویرېږم ، درواغجن خوبونه وینم
نه یې زه شمه ویلای،نه یې څوک تعبیر کوی شي
چې له ټولو نه پردي دي، ډیر دښمن خوبونه وینم
له دنیا نه مې د هیلو ، څه نری لوګی جګیږي
سر تر پایه پرې لمبه شوم لوغړن خوبونه وینم
هنګامه ستا ددیدارده ،رانه ورک ځکه قرار ده
خو چې سترګې کړمه پټې څه شکمن خوبونه وینم
ورانه خونه د غماز ده ، ترینه خیږي شنې لو خړې
ما راو یښ نه کړئ یارانو نن سوېمن خوبونه وینم

خپکئ د شوګیرونو ، د زمري له کوره تښتي
د وصال زیری یې راغی، ددیدن خوبونه وینم

۲۰۰۷/۲/۱۱

ویسبادن

# د پتنګ په وزرونو

ګلانه ستا د وصال ده ، د چمن په لوري ځمه
تصورکې ستا د زلفو،د ختن په لوري ځمه
له هر تاره د ویښتو دې ،کاږم ښکلي مخ ته لاره
زه له دې پل صراته،د عدن په لوري ځمه
ما شریکه کړله ژبه، له بلبل سره د چیغو
د پتنګ په ورزونو، د دیدن په لوري ځمه
په میدان د سربازۍ کې ،د مینو بزم تود دی
د مجنون مخکې روان یم د کوهکن په لوري ځمه
نن د هیلو په ګلونو د، دلدار ښکالو لګیږي
غوړیدلی پسرلی شوم، د ګلشن په لوري ځمه

د وفا تاج مې په سرده ،د تهمت لرم لښکر ې
زه د عشق د ملک پاچا یم د وطن په لوري ځمه

۲۰۰۷/۲/۱۲